# په افغانستان کې دسیا تالي څټې

## د(راپرزيدلودنده) کتاب ته لنډه کتنه

ژباړه: ب اکبري

تيرې درې لسيزې دافغانستان دکمزورې اوبې وزلې لسيزې اوکلونه وو.اود دغه هيواد راتلونکي اوبرخليک ،دنړۍ خوړونکو دووسترو ابرځواکونوپخواني شوروي اتحاد اودامريکا په لاسونوکې و.

دغولويوځواکونو دخپلوښکيلا کي موخواوغوښتنوپرته بل هدف نه درلود.اوپه دې لاره کې دهيڅ رازمدني،اخلاقي اونړيوالوقوانينوپه پروا کې نه وو.

دهغو په منځ کې تلپاتې رقابت روان و.اوورسره جوخت يې دافغانستان دحقوقي واکمنی په له منځه وړلو کې يو تر بله سيالي کوله.او په زړه پوري داچې دهغودګټواوغوښتنوسره سم به د دوی ترمنځ جوړ،جاړی رامنځته کيده اوپه بدل کې به دسلګونوزروافغانانووينې بهيدې.

د دغې سړې جګړې په ټس کې ،افغانستان دخونړۍ جګړې ډګرو.دهغه وخت د ډيريو واکمنواو جهادي مسلمانانو توري کړنې رسوادي.له څو تنوپرته ډيری هغه کسان چې په هغه مهال دافغانستان دولسونوپه برخليک واکمن وو،هغوسياسي اوکاري پوهه اوسپيځلتيا نه درلوده اودا لوبه تر ننه پوري روانه ده.

دګري شرون له خوا ليکل شوی کتاب (په افغانستان کې سي،ای،اې څه ډول دطالبانودواکمنی دله منځه وړلواوراپرزولوعمليات رهبري کړل) په نوم ښاغلي اسدالله شفايي ژباړلی اود(سولې دڅيړنې اوپراختيا مرکز)خپورکړی دی.

دغه کتاب د۲۰۱۱م کال دسپتمبرد ۱۱نيټې دپيښوپه اړه چې درې زره امريکايان پکې ووژل شول رڼا اچولې

چې په افغانستان کې یې دطالبانوپرضد جګړې ته دامریکا اوناتووسله والوځواکونوته لاره اواره کړه.

په دغه لیکنه کې هڅه شوي چې دغه کتاب ته ځغلند ه کتنه وشي.

**(په افغانستا ن کې دســـیا دنده)**

ګـــري شرون د سي،ای، اې هغه لوړ پوړی چارواکی دی چې ډیری وختونه یې دافغان مجاهدینوپه اړه یې کلیدي اواساسي رول لوبولی دی.اودجهادي قوماندانانودهغو له ډلې څخه یې دعبدالحق،مسعودخلیلي،احمد شاه مسعود،احمد ضیا مسعوداو حامد کرزي سره اوږدمهاله اړیکي درلودې اوپه دغه کتاب کې یې دغه اړیکي په ډاګه کړي دي.

نوموړي ته د۲۰۰۱کال دسپتمبرله ۱۱نیټې وروسته دنده وسپارل شوه چې دسی،ای،اې سازمان په تاریخ کې دستروعملیاتودترسره کولوزمینه رامنځته اودطالبانودله منځه وړلو په موخه دامریکا دچټکوپوځي عملیاتولپاره ،لاره اواره کړي.او د دغه هدف لپاره ګري شرون دنورو۹تنوسره یوځای پنجشیر ته واستول شو.





د(راپرزولودنده )نومی کتاب په افغانستان کې دګري شرون په مشرى د سي،ای،اې اړوند ډلې د۳۳ ورځنیوهلو،ځلوچې د(لاس تر زنې له منځه وړلويا جاوبریکر)په نوم یادیږي،پرده پورته کوي چې نظار شورا اودهغه پلويانوپه افغانستان کې دسیا اوامريکا وسله وال پوځ تيري ته لاره اواره کړه.

ګري شرون په پيل کې دمسعود خليلي له خولې داحمد شاه مسعود دترورد ځرنګوالي په اړه يادونه کوي کوم چې داحمدشاه مسعود سره يې اوږدې کاري اړيکي درلودې.

هغه دکتاب په پيل کې دمجاهدينواوسي،ای،ای اړيکوتاريخ ته کتنه کوي اودثور داوومې نيټې دکودتا وروسته دافغانستان په کورنيوچاروکې دهغه سازمان دلاسوهنوڅخه پرده پورته کوي.

ګري شرون وايي:

(هغه پيښې چې دافغانستان په قضيه کې دلاسوهنې لامل شوې د۱۹۷۹م کال ته ورګرځي....)

اودجهاد دپيل په اړه وايي:

د۱۹۷۸م کال په اګست کې دسي،ای،اې يولوړپوړی چارواکی آلن ولف چې په سي،ای،اې کې دنيړدې ختيځ اوسهيلي اسيا دچارومرکزريس وپه پاکستان کې وويل:

( ښاغلو زه اوس دلته يم.ځوکارونه پيل کړم.په کابل کې زموږکسان درژيم په احاطه اوچم،ګاونډکې سم کارونه ،نشي ترسره کولای.خومجاهدين دلته په پاکستان،پيښاوراواسلام اباد کې مرکزونه اونمايندګی لري.زموږجګړه له همدغه ځايه پيل کيږي.تاسودمجاهدينوپه هره ډله کې ځيني کسان په کاروګوماری).

ګري شرون ځرګندوي چې سي،ای،اې دروسانوپه وسيله دافغانستان له نيولودمخه دافغانستان د دولت پرضد پراخ اقدامات اوهڅې په لاره اچولي وې .دجهادي ډلو،ټپلوپه تسليح،تجهيزاوتمويلولوکې يې نيغ په نيغه برخه اخيستي وه.

مورړد۱۹۷۹کال په نیمایي کې د ولف دفوق العاده لاربنوونوسره سم اوه ګونومجاهدینوپه منځ کې وړکسان وموندل.اوپر هغه سربیره واشنګټن ته له راګرځیدووروسته د دولف دهڅوله مخې دامریکا دولت دپاکستان د دولت په ملاتړ دبشرپالومرستودرامنځته کولوپه موخه یوپټ پلان جوړکړ.

دشوروي دسره پوځ له خوا دافغانستان اشغال د دې سبب شوڅودامریکا دولت پخپل ټول ځواک دافغانستان دمجاهدینوشاته ودریږي اودازادی دمبارزې په غورځنګ کې داسلامي نړی ملاتړترلاسه کړي.

(دافغانستان له اشغاله څوورځې وروسته دجمهور ریس کارترپه لاربنوونه یوستر پلان اوستراتیژي پیل شوه چې ۱۲ کاله یې دوام وموندااودهغه په لړکې په نغد ډول،میلیاردونه ډالره،پوځې تجهیزات اوبشرپالې مرستې دافغان مجاهدینوته ورسول شوې اوپه دې لاره کې مجاهدینوته د دغومرستودویش رول پاکستان په غاړه واخیست)

همدارازدامریکا دمتحده ایالاتودمرستوپه تړاودواشنګټن پست خبریال او(دافغانستان تر پردې شاته )کتاب لیکوال سلیک اس،هاریسون لیکي:

دامریکا اوسعودي عربستان پټې مرستې تر ۱۹۹۱کال پوري۸،۲میلیارده ډالروته رسیدې.دغه مرستې په ۱۹۸۰کال کې کابو ۳۰ میلیونه ډالره اوپه ۱۹۸۱کال کې د۵۰ میلیونوډالروترپوښښ لاندې پیل شوې.

په دغه دوه کلنه موده کې پاکستان داومنله چې دامرستې به دوی رسوي.خووروسته یې له امریکا سره اوږدې چنې ووهلې اودهغه په لړ کې یې د ۵،۱ میلیارده ډالروپه شاوخواکې دپاکستان پوځ ته دپوځې مرستوغوښتنه وکړه.

دغه مرستې په ۱۹۸۵کال کې ۲۵۰ میلیونه ډالروپه ۱۹۸۶کال کې ۴۷۰میلیونه ډالرواوپه ۱۹۸۷کال کې ۶۳۰میلیونوډالروته ورسیدې.

د(راپرزيدلودندې نومي) کتاب ليکوال دافغان مجاهدينوسره دسي،اى،اې داړيکودڅرنګوالي اوخپلوجيره خوروته دپيسو دورکړې په تړاوليکي:

(سي،اى،اې هڅه کوله چې دجهادي قوماندانانواومشرانوسره مستقيمي اړيکي ټينګي کړي)

(موږپه هره مياشت کې دغه قوماندانانوته نغدې،چغدې پيسې ورکولې.ځيني وختونه دغه پيسې دمياشتې پنځوسوزروډالروته رسيدې.اوکوچنيوقوماندانانوته په هره مياشت کې پنځه زره ډالره ورکول کيدل.تر کومه ځايه چې پوهيږم هيڅ يو قوماندان زموږورانديزرد نه کړ).



دهغوپه منځ کې يوازې احمد شاه مسعود دوه لکه ۲۰۰زره ډالرهره مياشت له سي،اى،اې څخه ترلاسه کول.

لکه چې يو ځلې دامريکا غږراډيودمطبوعاتي تبصرې ترسرليک لاندې په پښتو ژبه ديوه رپوټ په ترڅ کې وويل:

د(تورتم جګړې) په نوم د(استيف کول) کتاب په څيړنه کې راغلي دي چې دشوروي ـافغان جګړې په وخت کې دامريکا سفارت په کابل کې وتړل شواوسيا ،دې ته اړشوچې دافغانستان په چاروکې دفعاليتونوپه موخه خپل دفتر په اسلام آباد کې پرانيزي.

وروسته سیادګري شرون په مشرئ دغه دفترفعال اوپرانیست.

دسیا دلوړ پوړي مقام ماموریت داو چې دسیا ۵۰۰ جیره خورومجاهدینوته ټاکلي حقوق ورکړي.

یوازې احمد شاه مسعود هره میاشت له سیا څخه دوه لکه ۲۰۰زره ډالرنغد،چغد ترلاسه کول.

خوداڅرګنده نه ده چې د ای،اس،ای څخه ولې داموضوع پټه شوي وه.هردلیل چې وي خو احمد شاه مسعودله ای،اس،ای څخه هم په لوړه کچه حقوق اخیستل.

د دغوپیسوپه بدل کې جهادي قوماندانانودنده درلوده چې د ډاکترنجیب الله حکومت ته دپای ټکی کیږدي.

همدارازرپوټ وایي چې دسرې جګړې په اوږدو کې داحمد شاه مسعود سرسخت رقیب ،ګلب الدین حکمتیاردسي،ای،اې له خورا نازولواجیرانوڅخه بلل کیده او د دغه سازمان له مرستوڅخه یې شپږسوه۶۰۰میلیونه ډالره ترلاسه کول.چې دافغانستان داسلامي بنسټپالود ډلو په منځ کې یې تر ټولولوړپړاودرلود.اوله هغه وروسته اسلامي جمعیت اواسلامي اتحاد دویمه اودریمه درجه جیره خوارشمیرل کیدل.



د(تورتم جګړه) نومي كتاب ليكوال (استف كول) افغان مجاهدينوته دامريكا د دغو مرستود پايلو په اړه ليكي:

(....په پاى كې سيا له افغانستان څخه يو داسې هيواد جوړكړچې داړودوړ،ګډوډيواوجګړه ماروړهبرانوڅخه ډک و.او جګړه غوښتونكوهر ډول وسلوته لاس رسی درلود.دغه وسلې له ستينګر توغنديونيولي د دافع هواوسلو پوري دهغوپه واک كې وې).

(په افغانستان كې خلكو دومره زياتې وسلې درلودې چې په ټوله كې دپاكستان اوهند خلكو نه درلودې.

اودجهاد په لسوكلونوكې يې دومره پريمانه وسلې افغانستان ته واستولې چې هډويې كوم بل هيواد ته نه وې ليږلي).

په دې ډول افغانستان دطالبانوراټوكيدوته چمتوشو.دطالبانوژمنه هم داوه چې جګړې ته دپاى ټكى كيږدي.اودقانون واكمني رامنځته كړي.خوپه پاى كې افغانستان داسامه بن لادن دفعاليتونو لپاره غوره ځاى شو....

نوربيا......

بسم الله اكبري

۲۰۱۷/۲/۱۵